# ۷۸۶

## څنګه لیکوالان شو؟

## د لیکوالۍ اصول څه دي؟

د لیکلو وړتیا یو د الله ج له لوري پیرزو شـوی نعمت دی چې خپلو بندګانو ته يې ډالۍ کړیدی، قلم او لیکل د الله ج په نزد د مهمو امورو څخه دي چې څښتن تعالی پرې سوګند خوري. د اسلام د علماوو په نزد لیکل د علم نیمه برخه ګڼل شـوي ده چې د ژوند په ټولو چارو کې ورته خورا اړتیا شـته، په اوسـني وخت کې به لیکل د هرچا زده وي خو دا چې موږ څنګه د لیکلو وړتیا لوړه کړو او ځان لیکوالۍ ته ورسوو، نو په دې اړه ستاسـو سره ځینې مشورې او لارښوونې شریک کوو.

لیکل او لیکوالي دا دوه جلا بحثونه دي لیکل د خط وړتیا ته وايي خو لیکوالي د همدې خط د وړتیا پرمختللې برخې ته وايي. کله چې زموږ معلومات او مطالعه خورا زیاته او ډیرشي نو زموږ سره به داسې وړتیا پیدا شي چې پر یو موضـوع بحث، تحلیل او سـپړنه وکړو خو که مو معلومات لا زیات شي نو همدا بحثونه به د قلم په ژبه ولیکلای شو چې دې مهارت ته د لیکلو وړتیا وايي. دلته به تاسو ته ځینې اړین موارد وښایوو چې څنګه لیکوالان شو؟

لیکوال څوک دی؟

هغه څوک چې یو موضوع یا بحث په نوي نظر وړاندې کړي.

لیکوالي څه ده؟

یعنې که یو لیکوال نوې مطلبونه خپله رامنځته کړي او یا هم د یوې موضـــوع په اړه د بیلابیلو لیکوالانو نظرونه او لیکنې یو ځای کړي ترڅو لوستونکی پوه شي چې وخت يې همداسې نه ضایع کیږي.

۱- شـوق او علاقه: شـوق او علاقه د لیکوالۍ لپاره اساسي شرط دی که چیرې علاقه ونه لرو نو هڅې به مو بې پایلې وي او له څه مودې وروسته به مو له دې کار څخه زړه تور وي. که مو علاقه له لیکوالۍ سره فطري وي نو هرڅه به درته آسـانه وي خو که علاقه ورسره نه لرئ نو لومړی د لیکوالۍ انګیزه او وړتیا پیدا کړئ بیا په لیکوالۍ پیل وکړئ.

انګیزه څنګه پیداکړو؟ یو لوی هدف په نظر کې نیول، د ژبې ژوندي ســـاتل، د خپلو نظریاتو خپرول او تل جاري ســـاتل، د لیکوالانو سره ناســـته ولاړه، په انټرنیټ کې لیکنو پسې ـــ کتل، مطالعه کول او نور داسې خوځښـــتیز پلانونه مو د لیکوالۍ شـــوق را ژوندی کوي، کله چې مو علاقه لاســـته راوړل نو نور مســـایل او شرطونه يې تاسو ته بیا آسانه کیدلی شي.

۲- موخه وټاکئ: ځان ته داسې هدف وټاکئ چې تاســـو څه ډول کتاب لیکئ؟ په کومه برخه کې کار کوئ؟ آیا ســـاعتیري کتابونه لیکئ؟ ناول لیکئ؟ او یا په نورو برخو کې کار کوئ؟ د هدف ټاکل مو کار آســـانه او وړتیا مو زیاتوي. په لومړیو کې کوښـــښ وکړئ چې خپلې لیکنې ته د یو آزمایښـــتي لیکنې ســـوچ وکړئ خو راتلونکې ته داسې پلان ولرئ چې موږ یو ښه لیکوال جوړیدل غواړو.

۳- د ليکوالۍ لارې وټاکئ: په اوسنۍ زمانه کې ليکل خورا آسانه او ارزانه دي، ددې لپاره چې ښه مختګ وکړی نو د ليکلو لپاره مخکې له مخکي يو شکل او فرمټ جوړ کړئ مثلا: په کوم کارېال کې غواړی کار وکړی؟ په اوسني وخت کې زياتره کسان په Word کې کتابونه ليکي نو تاسو هم داسې يو سافټوير ځان ته وټاکئ.

۴- د ليکوالی پيل: کله چې د خپل شوق او علاقې څخه ډاډه شوی نو سمدستي قلم راواخلئ او په ليکلو پيل وکړئ، که مو ذهن ته څه نه راتلل چې څه وليکم نو پر ساده موضوعاتو باندې ليکنه وکړئ لکه: د ځان پيژندګلوي، خپل لنډ ژوند ليک، لنډه کيسه او داسې نور...

په لومړيو کې سخت موضوعات مه ځيرئ ساده ليکنه وکړئ، د شرم او کمترۍ احساس مه کوئ دا ليکنه يوازې ستاسو لپاره ده تاسو له عامه قضاوت سره نه مخ کيږی دا يوازې ستاسو ليکنه ده او تاسو پرې قضاوت کوی.

خپل د محيط ځيني شيان او پديدې د خو، شايد او فرض کړی په کلمو سره وسپړئ او قرار قرار يې له ظاهري اړخ سربېره دننۍ اړخ هم وسپړئ. د وخت په تيريدو چې مو کله قلم وچليدی نو ليکني مو ملګرو ته وليږئ، کوښښ وکړئ خپلو ملګرو کې څو تنه ليکوالان هم ولرئ ترڅو هغوی درته ځيني مشورې او لارښوونې وکړي.

۵- هره ورځ ليکنه وکړئ: که مو هره ورځ ليکنه کول نو تاسو ځان ته خورا ښه سرمايه جمع کړيده ګوتې او قلم مو جاري ساتلې دی. هرڅنګه حالات چې هم وي بيا هم ليکنه مه پريږدئ که مو غلطه ليکنه وکړل تاسو يې بيرته اصلاح کولای شی خو که بيخي ليکنه ونه کړی نو پر سپين کاغذ به څه اصلاحات راولی؟

۶- څه وخت ليکنه وکړو؟ کوښښ وکړئ چې سهار وختي له خوبه پاڅی او په ليکلو پيل وکړی، ځکه دی وخت کې ستاسو ذهن ښه نورمال وي کولای شی ښه تحليل او سپړنه وکړی.

۷- په موضوعاتو کې ګډون وکړئ: په هرڅه کې ګډون وکړئ پر هرڅه نظر واچوئ ترڅو قلم مو روان او نثر مو پوخ شي، که مو ځان په دې ځوريدی چې په يې ګټو ځيزونو بوخت يوو؟ ولې کومه ګټه نه راته رسيږي؟ څو وخت همداسي روان و اوسئ او دا کارونه او نظرېې مو بايد هوډ کمزوری نه کړي. کوښښ وکړئ چې کم تر کمه هره ورځ يو ساعت د ليکلو لپاره ځانګړی کړئ.

۸- ستړيا: هيڅکله ځان ستړی مه احساسوه، ليکوالي د څو ورځو کار نه دی بلکې حوصله او کلک هوډ غواړي.

۹- تقليد وکړی خو کافي نه: په ليکوالی کې د چا تقليد کوی له هغه څخه ځيني اخيستني کوی خو هيڅکله کټ مټ د هغه ليکوال ليکنه مه کاپي کوئ ځکه کاپي کول زموږ د ليکنو يو ډير ضعيف او کمزوری اړخ بيانولی شي. بريالی ليکوال هغه دی چې خپله تګلاره وکاروي نه د بل!

۱۰- مطالعه مو هرومرو ډيره کړئ: مطالعه کول مو ذهن پراخوي کولای شی چې پر بيلا، بيلو موضوعاتو بحث وکړی، نظر ورکړی او ليکنه جاري وساتی. که مو ځيني بحثونه په زړه نه وي چې مطالعه يې کړی نو خپل د ذوق او شوق موضوع ګاڼي مطالعه کړئ. کيسيز کتابونه او مقالې مو ښه مطالعې ته هڅولای شي. مغروری ته ځای مه ورکوئ او تل د مطالعې کولو په سوچ کې اوسئ. هر اړخيزه مطالعه مو ليکوالي ښه قوي

کوي، کوښښ وکړئ چې په ټولو برخو کې لکه: اسلامي، ديني، سياسي، جغرافيايي، ادبي، اروااپوهنيز او نورو برخو کې ښه قوي مطالعه ولرئ. که په يوه موضوع کې ډيره مطالعه وکړئ بيا هم ستاسو څخه د يو ښه ليکوال تمه نه شي کيدلای ځکه علوم په خپلو کې يو له بل سره اړيکې لري

۱۱- د ليکوالۍ بحث مو روښانه کړئ: دا توپير کړئ چې په کومه برخه کې ليکوال شئ هو تاسو بايد په ټولو برخو کې ليکوال شئ خو دا چې ليکنه وکړئ نو د ليکوالۍ بحث مو اړين وټاکئ.

۱۲- نيت مو پاک او هدف مو لوړ ساتئ: ليکوالي يو الاهي نعمت دی نو کوښښ به مو دا وي چې يوازې مو ليکوالي پر دنيوي امورو را ونه څرخي بلکې الاهي امورو او انساني شرافاتو ته په کتو ليکل پيل کړئ.

۱۳- ژور سوچ ولرئ: عميق سوچ مو ليکنه ښه پخه او فصيح کوي، ژور توب او اخيستنه په ليکوالۍ کې اړين شرط دی، هرڅومره چې ژور فکر وکړی هغومره مو ليکنه پخه کېږي،

۱۴- تل رښتيني اوسئ: هرې موضوع ته رښتينې بڼه ورکوئ هيڅکله په ليکنه کې درواغ او مبالغه مه کوئ، بيله افسانو او کيسو څخه په نورو ليکنو کې تل رښتيني اوسئ.

۱۵- يو ښه اوډون يا Designer پيدا کړئ: کله مو چې ليکنه يا کتاب پوره شو نو کوښښ وکړئ چې يو داسی ماهر کس پيداکړی چې د کلمو، تورو او نورو معلوماتو او ليکنو ترتيب په نظر کې ونيسي ـــ او ټول سره اوډون کړي. که چېري يو بهترينه اوډون په پيسو ځان ته ونيسی۔ دا به تاسو تاوان نه بلکې ګټه کړې وي، او يو ښه حرفه يي کار به مو سرته رسـولی وي. که چېري مو کتاب اوډون نه کړی نو له غلطيو او نيمګړتياوو څخه به خالي نه وي او اعتبار به مو لوستونکو ته له لاسه ورکړی وي.

۱۶- بشپړتيا: کله چې مو کتاب بشپړ شو نو يوازي يې کمپيوټر کې ذخيره مه ساتئ بلکې چاپ او خپور يې کړئ. که مو کتاب د کال بهترينه کتاب نه شو خو تاسو همدا تمه ولرئ هرومرو به همدا وياړ هم ترلاسه کړی.

سميع الله الکوزی